# پښتو کلاسیک غزل کښې هېڅهیلتیا

## Pessimism in Pashto Classical Ghazal

فیصل رحمان فاران*

**Abstract:**

This article "Pessimism in Pashto Classical Ghazal" is the first ever literary research, at least in Pashto, to unveil the composite elements that contribute in understanding the phenomenon of Pessimism. The Researchers have tried to discuss with references the pessimistic approach in classical Pashto poets. This research will help in understanding the philosophical, psychological and social drives behind the Pessimism. The article will establish newer angles for criticism of the modern poetic/ literary creations. A new theory has been tried to be presented regarding Pessimism in this article by researchers.

هېڅهیلتیا یوه مبهمه، فلسفیانه او ادبي اصطلاح ده. د دې بسمه عربۍ لفظ قنط دی، قنوط د خیر ښېګړې نه نا امیدي او بې هیلې کېدو ته وئیلی کېږي. قران پاک هم دغه لفظ پکاروي.

قُلْ یٰعِبَادِيَ الَّذِیْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِیْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ. [سورة الزمر، 53]

مفهوم: ووایه چې اې زما بندګانو! چې چا په خپلو ځانونو زیاتی کړی، د خدای رحمت نه مه ناامیده کېږئ، خدای د ټېلمې ګناهونه بخښي او هغه بخښنه کوونکی مهربان دی.

قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِیْنَ. قَالَ وَمَنْ یَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ. [سورة الحجر 56,55]

مفهوم: ووایه چې زېری [د زوي] مو په حق سره درکړو نو تهٔ نامیده کېږه مهٔ او د خدای رحمت نه بې لارې خلق ناامیده کېږي.

د قراني روایت لهٔ رویه هېڅهیلتیا د لارخطا کړیو (الضالین) صفت دی. وړومبي سورت فاتحه کښې دغه ډلې ته ګوته نیولې شوې ده. [سورة الفاتحة، اٰیت 7]

د قران لهٔ رویه طمع او هیله د ایمان نخښې دي، ځکه بې طمعې، بې امیدي، مایوسه خلقو ته ګمراه، لارخطا کړي او ضالین وئیلی شوي دي.

---

* P.hD Scholar Pashto Academy Peshawer, Khyber Pashtoon Khwa.

د عربۍ منلی لغت المنجد د دې لفظ سپیناوی څهٔ داسې کوي.

قنط و اقنط: څوک مایوسه کول

قنط قنطا: منع کول، ودرول(۱)

شعر و ادب تـه تنقیـد کښـې قنوطیـت اصـطلاح دراصـل انګلیسـۍ اصـطلاح "پسـی میـزم" (Pessimism) متبـادل راوړلـی کېـږي. د قنوطیـت اصـطلاح د دوو ټکـو "قنوط+یـت" لاحقې سره جوړ شوی دی.

د دې متـرادف دلتـه پښـتو کښـې بـه مـونږ د "هېڅهیلتیـا" مرکبـه کلمـه راوړو چـې د هېڅ=هیچ+هیله [ه په پرېوتو سره د "تیا" وروستاړی لګېدلی دی.

"هېڅ (ص) نب: بې حقیقته، نهٔ څیز، نیشت، لږ(۲)

"هیله (ښځ.م) تمه، توقع، امید(۳)

"پښـتو ګرامـر" کښـې د صـدیق الله رښـتین لیکـي چـې د "تیـا" لاحقـه زیـاتره د هغـه سـاده صـفتونو پـه پـائې کښـې چـې پـه صـحیح تـوري پـائې تـه رسـېږي، ورزیـاتېږي او یـو صفت، وصف، حالت څرګندوي. لکه مېلمه نه مېلمستیا ، زړهٔ ور نه زړهٔ ورتیا . (۴)

د پیسـی میـزم د اصـطلاح بسـمه د لاطینـي لفـظ Pessimism سـره تړلـی کېـږي. د جوشـفا تـر مخه:

> The term pessimism derives from the Latin word pessimus meaning 'the worst'. It was first used by Jesuit critics of Voltaire's 1759 novel 'Candied'. Voltaire was satirizing the philosophy of Leibniz who maintained that this was the 'best (optimum) of all possible worlds'. In their attacks on Voltaire, the Jesuits of the Revue de Trévoux accused him of pessimism

**ژباړه:** د پېسـیمیزم تـوری د لاطینـي "پېسـیمس" نـه مشـتق دی چـې معنـې ئـې بـدترین ده. والتېئیـر پـه وړومبـي ځـل خپـل نـاول "کانډېډی" 1759ز کښـې دا پکـارولی ؤ. والتېئیـر د لیبنیـز د فلسـفې پـه اړه دا د نـړۍ د ممکنـاتو نـه غـوره رجـائي بېلګـه یـاده کـړه. پـه والتېئیـر نیوکه کوونکو د دې توري په ترڅ کښې هغه د قنوطیت راوړلو په تور تورن کړو.

هېڅهیلتیـا ژونـدی بنیـادم او دنیـا تـه یـو د ویـرې ا ونـول پـه زاویـه کتـونکی نظـر دی. د داسـې د غـم او نـول ذهنـي کېفیـت چـې بنیـادم پـه کښـې ځـان بـې وزلـه بـې کسـه محسوسـوي او هـرې هیلـې نـه لاس پـه سـر وي. څنګـه چـې سـرمایه دارانـه نظـام د مغـائرت او بیګانـه تـوب احسـاس د نـوي دور بنیـادم تـه هغـه وخـت ورکـړه چـې کلـه د رشـتو پـه اسـاس ولاړه د ټـولنې پیژنـدګلوي مشـیني دور لـهٔ مینځـه یـوړهٔ. مغـائرت هـم یـو داسـې ذهنـي کېفیـت دی چـې خلـق حقیقـت او واقعیـت ناجانـه محسوسـوي او دې کښـې هغـه جـذبات چـې ټـولنیزه پیژنـدګلو بانـدې اډانـه وي، لـهٔ مینځـه ووځـي. څیزونـه، وګـړي، حقیقتونـه، ناجـانتوب

ښکار شي او بېګانګي او د تنفر احساسات راپېدا شي. هم دغسې زرې جاګيردارانه ټولنې د هېڅهيلتيا غوندې نکته نظر راپېدا کړې ؤ ځکه چې دغه ټولنه د زورورۍ قوځواک منډۍ په بنياد ولاړ ټولنه وه او د بې وزله، بې کسه بنيادم دپاره دې کښې هېڅ ځای نهٔ ؤ. لهٔ دې کبله دغه ټولنه کښې د هېڅهيلتيا غوندې رجحان رامينځ ته شوی ؤ.

**Pessimism** is a mental attitude. Pessimists anticipate undesirable outcomes from a given situation which is generally referred to as situational pessimism or believes that undesirable things are going to happen to them in life more than desirable ones. Pessimists also tend to focus on the negatives of life in general or a given situation. The most common example of this phenomenon is the "Is the glass half empty or half full?" situation. In this situation a pessimist is said to see the glass as half empty while an optimist is said to see the glass as half full. Throughout history, the pessimistic disposition has had effects on all major areas of thinking.(۵)

**ژباړه:** هېڅهيلتيا يوه ذهني رويه ده. دا رويه لرونکي د ممکناتو په ضد د نتيجو راوتلو توقع لري. دوي ګڼي چې حالاتو د دوي د توقعاتو خلاف واقع کېږي او اغېز ئې هم د دوي د ښېګړې سره سمون نهٔ لري. د دې روئې غوره بېلګه هغه د نيمګړي او ډک ګلاس خبره ده. هيله پال ورته نيم ډک او هېڅهيلي ورته نيم تش وائي: د تاريخ په اوږدو کښې هېڅهيليو د ژوند هر فکري اړخ اغېزمن کړی دی.

انسائيکلو پېډيا امريکانا د پيسی ميزم په حقله داسې سپيانوی کوي!

"An attitude towards the world (or a theory expressive of an attitude) which finds evil in general preponderant over good unlike optimism finds good dominant. Pessimism needs not to be articulate and even if articulate need not to reasoned."Universe as a whole fails to fulfill the norms of the proponents of the theory or of external critics respectively.(۶)

**ژباړه:** دا د نړۍ په لوري د کتنې ذهني رويه ده چې د هر څهٔ په حقله منفي رايه او منفي هيله لري. د هيله پالۍ په ترخ کښې د هېڅهيلي سره د هغهٔ په رويه د بحث امکان لرِوي. د هېڅهيلتيا د محرکاتو لټون کښې منطق او تعقل په مکالمه کښې غلی پاتې کېږي.

ويبسټر ډکشنري دغه اصطلاح داسې تعبير کوي.

"Inclination to put the least favorable construction an action and happenings, from Latin pessimus+f-pessimus(isme). The philosophical doctrine that the evils of life overbalance that happiness if affords and that life is preponderantly evil. The worst possible are conceivable state.The philosophical doctrines are opinion that reality is essentially evil, completely evil or as evil as it conceivably can be."(۷)

**ژباړه**: د لاطیني ژبه پېسیموس هغه ذهني رویه ده چې د انساني ژوند په هره مرحله د بدۍ هیله پالي او ګڼي چې ژوند کښې په هره موقع بدي د انساني نسل برخه وي. دا فلسفیانه اند دی چې ګڼې د ژوند د هر تعامل پایله په یو صورت کښې بده وي، ټوله بده وي یا که بده نهٔ وي هم خو د انسان توقع ماتوي.

ډاکټر نصیب الله سیماب "د کره کتنې اصطلاحات" کښې د هېڅهیلتیا پېژندګلو داسې کوي:

قنوطیت (هېڅهیلتیا) یا یاس چې بدبیني هم ورته وئیلې کېږي، په ادب کښې هغه څهٔ وړاندې کول چې د هغې څخه نا امیدي رامنځ ته کېږي، د دنیا ژوند عبث کار بلل کېږي، په ژوند کښې څهٔ کول ګټه نهٔ لري(۸)

د دې ټولو حوالو نه دا خبره جوتیږي چې هېڅهیلتیا یو داسې نکته نظر دی چې د هیله پالتیا (رجائیت) اپوټه دی او هیله پالتیا ژوند ته په ښهٔ نظر کاتهٔ فکري رویه ده. د رجائیت او هېڅهیلتیا دا نفسیاتي رویه د فرېډرک لېنګبرج په دې خبره کښې ډېره واضحه ده چې هیله پالتیا ستوري ویني او هېڅهیلتیا ته په سترګو کښې بې د خاورو ختو څهٔ نهٔ ښکاري:

Two men look out through the same bars.One see the mud and one the stars.

د خېر په مقابله کښې شر د نېکۍ مقابله کوي. بدي زیاته بااثره او زوروره ګڼي، د یو خوا که ډېر واضحه نکته نظرنهٔ دی او که څهٔ وضاحت لري خو بیا هم د استدلال بنیاد نهٔ لري او نفسي رویه یا ذهني رجحان دی. هېڅهیلتیا منونکي شر د وجود باعث ګڼي خو دا نهٔ وائي چې د اخلاق حس کوم خوا نه په بنیادم کښې وټوکېدهٔ چې مونږ وربانډې د شر پېژندنه کوو. قراني روایت البته دېخوا اشاره کوي او د "فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا" خبره کوي، یعنې اخلاقي حس انساني ذات کښې لهٔ ځایه راغلی ښائي، خو عبدالرحمان مومند وائي:

دومره توان و توفیق نهٔ ګڼم په بخت کښې
چې تائب کا ما له فسقه له فجوره(۹)

نوموړی شاعر ابو العليٰ معري خو دې نفسیاتي رویه کښې دومره وړاندې تللی دی چې ژوند ته ګناه وائي او خپل وجود د دغه ګناه ثبات ګڼي. لکه چې وائي:

هٰذا جناحٌ ابي عليٰ :: و ما جنیت عليٰ احد

ژباړه: زما ژوند زما د پلار ګناه ده، خو ما ځان لهٔ دغه تېره ژغورلی دی.

ځکه چې دې کښې تکلیف او د بې کسۍ او تنهائي ته اولیت ورکړی کېږي او

بدی په ژوند کښې د نیکۍ نه زیاته فعاله ګڼلی کېږي. هم له دې کبله د دنیا د بې ثباتۍ، فنا او مرګ تذکره هم د هېڅهیلتیا نکته نظر لرونکیو کښې زیاته وي.

ځکه کشاف اصطلاحات فلسفه د هېڅهیلتیا بنیادي نکتې داسې په ګوته کوي.

* حالاتو او واقعاتو پله مایوسي کونکي رویه خپلول. * د حقیقتونو په تیارۀ اړخ باندې ټینګار کول. * ژوند د غم او الم او تکلیف نه راوتی ګڼل.(۱۰)

هر کله چې مونږ په دې حواله د پښتو کلاسیکي غزل یو جاج اخلو نو هلته هم ځای په ځای شاعران د هېڅهیلتیا ښکار، د نیا، دوران، اسمان، رقیب، جانان او ښکلو نه سر ټکوي، ژړا او انګولا کوي، د قسمت په دۀ کله هم د جبریت مفکوره ئې رامنلې او جهان ورته کله د یو زندان غوندې ښکاري. د هېڅهیلتیا په احساس کښې د دنیا د پلیتۍ تصور هم د ګناه د ژور احساس په صورت څرګندېږي او دې رویه کښې شدت پېدا کوي، ځکه چې د دنیا رد سره د مذهب ملاتړ هم ترلاسه شي.

په دې حقله د عبدالرحمان مومند غزل ډېر مهم دی، چې د هغه نه پس د هغه د مکتب شاعرانو هم د هغه غوندې ځیني داسې مضامین په تکرار او اعادي راوړي چې مونږ ئې د هېڅهیلتیا په تناظر کښې کتلی شو، لکه جبر، یاسیت، بې ثباتي، فنا، مرګ، ګوښۀ کیده، د ژوند رد، نامملکنیت، د دنیا غندنه، او خود اذیتي غوندې مضامین چې د هېڅهیلتیا دائرې کښې داخل دي.

د کلاسیکي شاعرۍ ژوره لوستنه هېڅهیلتیا څۀ په دې توکو کښې راڅرګندوي.

1. **د فلک ګردش**:(Cursing Luck)

د ازل د برخو دې تصور سره بیا د آسمان د ناکړدو تصور کوم چې پخوانه د علم نجوم سره راروان ؤ. د فلک سره د قسمت د تړون تصور د بابل، کنعان د اوۀ سیارو نه راروان دی. "پښتو شاعرۍ کښې اساطیري تلمیحات" کښې لیک دي:

"دې هندسې (7) سره د خوشبختۍ تصور لرغونی کنعاني دی. شماس سین، ایشتر، مینو، نرګل، ننب، مردوک سره به دوي خپل قسمتونه تړل. هم دې خدائیګوټو (سیارو) سره د اوونۍ اوۀ ورځې جوړې شوي. د سپوږمۍ ستورو د مذهبي تقدس لۀ کبله لرغونو بابلیانو بورسیپا کښې یوه رسدګاه جوړوله چې نیمګړې پاتې شوه بیا بخت نصر جوړه کړه. د دې اوۀ منزلونه د اوو سیارو په نامه باندې کېښودلی شوي وو"(۱۱)

وروستو په دې خرافاتي تصور تصوف هم د ارباب و مربوبات روحاني فلسفه

وړاندې کړه چې په دې کليه اسماءَ الٰهي لکه بديع ورسره اسماءِ کون لکه عقلِ کل، ورسره حرف ملفوظ لکه الف، ورسره منزل قمر لکه شرطېن وي. دغه اتۀ ويشت اسماء الٰهي، ورسره اتۀ ويشت اسماء کون، ورسره اتۀ ويشت حروف ملفوظي، ورسره منازلِ قمر دي، لکه:

يوولسم نمبر اسم الٰهي "رب" دی، اسم کون "فلکِ زحل"، حرفِ ملفوظ "ي"، منزلِ قمر "سرطان" دی. دغسې دیارلسم اسم الٰهی "قاهر"، اسم کون "فلک مریخ"، حرفِ ملفوظ "ل"، منزلِ قمر "عواد" او تفصيل کښې ليک دی:

"د درېم اسمان سياره مريخ ده، ورځ ئې سه شنبه ده، هارون او يحی علېهم السلام دلته هستوګن دي، د اسمان د لوړتيا او کسات مظهر دی. لرې نزدې کوي او ناپېد پېدا کوي. ايمان زړۀ کښې پخوي او کفار د اسرارو د دنيا نه وباسي. عزرائيل ئې واکمن دی او د هغۀ روحانيت هغه ځواک دی چې تُوره وهونکي او کسات اخستونکي سره مرسته کوي." (۱۲)

خوبل خوا د کلاسيک شاعر يونس د دغه تصور په رد وائي:

سعد و نحس د سړي نيکي بدي ده
نجومي بدناموي زهره زحل(۱۳)

اوس دې مريخ ته ځکه تصوف هم د جنګ و جدل، انتقام/ غچ، مرګ مقام ورکړی چې لرغونی دېومالاکښې هم مريخ د جنګ و جدل دېوتا [سياره] ؤ. د تصوف شاعران د اسمان د چورلک شکايت کوي او خپل بخت ژاړي نو هم دغه ارباب و مربوبات متصوره ئې مخې ته وي. دغه متصورې تصوف کښې هېڅهيلتيا ته لويه وده ورکړې ده.

دا د لاندې به همه واړه چېت پيت شي
مګر سر وي چا وکښلی تر فلکه
چې په اصل خدای نسکور دی پېدا کړی
ځوک به ځۀ خوري د سپر لۀ خانکه(۱۴)

2. **جبريت** (Determinism):

د ناممکنيت تسلسل کښې يوه لويه متصوره د ازل د برخو جواري يا عقيدۀ جبر هم ده. ډاکټر نصيب الله سيماب خپل تاليف "د کره کتنې اصطلاحات" کښې ليکي:

"د جبريت نظريه هغه نظريه ده کوم چې انسان خپله اراده کښې ازاد نۀ ګڼل کېږي او په خپل عمل کښې هم ازاد نۀ ګڼل کېږي بلکې داد ماحول، سماج او تاريخ په

دائرو کښې راوستل کېږي او انسان په هغې باندې عمل کولو د پاره مجبور بلل کېږي. د جبريت ډېر قسمونه پوهانو په ګوته کړي لکه د تقدير جبريت، نفسياتي جبريت، تاريخي جبريت، عمراني جبريت، ميکانکي جبريت او داسې نور جبريتونه.په دې بحث کښې د جبر و قدر مسئله هم منځ ته کېږي. کوم خلق چې شعر کښې خپل عمل د تقدير ليکلي بولي، دا په اصل کښې د جبر د نظريئې و خوا ته مائل خلق دي." (۱۵)

د فلسفې لۀ رويه جبريت داسې تصور دی چې هر پېښېدونکی شی د خپلو اصولو په بنياد پېښ شي نو هغې نه علاوه هېڅ هم نۀ شي کېدی څنګه چې هغه پېښېږي. هم دغه شان ناممکنيت په لړ کښې د ازل نه د شوي تقسيم او تقدير خبره هم ده. عبدالرحمان مومند وائي

خاورې د ادم چې کړې خمبير فرشتګانو
درست ئې په غمونو په دردونو ولاړۀ"(۱۶)

شمس الدين کاکړ وائي!

په ازل کښې وه ژړا زما په برخه
لۀ قسمته شو نصيب د مقسوم دا
چې پرې نقش زما نوم له توره بخته
شو په دا سبب مختوری نګين هم لا"(۱۷)

بېدل اشنغری وائي:

چې ليکلي په ازل دي ورته رسي
د ازل خبره نۀ ده کمه کوزه"(۱۸)

علي خان د هشنغر وائي!

څۀ لا څۀ چې په ازل د برخو ويش ۇ
په غمونو باندې اِسک د آدم وخوت"(۱۹)

نجيب سربند هم وائي!

لا حاله ئې بخري وکښې په کتاب کښې
چې نۀ اسم د ادم ۇ نۀ ئې وجود ۇ
د هر چا لارې ئې بيلې هغه دم کړې
چې نۀ نوم د نصارا نۀ د يهود ۇ(۲۰)

د ازل د برخو دې تصور هم هېڅهيلتيا ته لاره سمه کړې ده. د ازل د برخو د دې

تصـور بنیـاد اسـلامي تعلیمـاتو کښـې د اشـاعرې مسـلک امـام ابوالحسـن اشـعري ایښې ؤ. ابوالحسـن اشـعري د معتزلـو د ډلـې د یـو مشـر شـیخ جبائي شـاګرد ؤ خـو یـوه ورځ هغـه خپـل اسـتاد تـه مخـې تـه یـو سـوال کېښـوه چـې درې رونړـه دي یـو نابالغـه مړشـه، بـل ایمـان راؤړه او دریـم د کفـر حالـت کښـې مـړ شـو، نـو دا ولـې هغـه ورتـه ووې چـې د کـوم نابالغـه مـړ شـۀ، نـو خـدای پـرې فضـل وکـړو، لـۀ دوزخـه ئـې بـچ کـړو. نـو دۀ پوښـتنه وکـړه چـې دا حالـت کفـر کښـې چـې مـړ شـه، پـه دۀ ولـې خـدای ولـې فضـل نـۀ کولـو. هـم دغـه بحـث نـه پـس هغـه د معتزلـه ډلـه پرېښـوه او د اشـاعري مسـلک ئـې وړانـدې کـړه. د خـدائي تعـال فضـل و کـرم ئـې د خـدائي تعـالي خوښـه وګرځولـه او دجنـت دوزخ پـه ازلـي تقسـیم ویـش بانـدې ئـې تکـرار اوکړه، دې لړې ئي د قران پاک یو شمیر ایتونه هم وړاندې کړه لکه

يضِلُّ بِهٖ كَثِيراً ۙ وَّ يَهْدِي بِهٖ كَثِيراً (البقره ۲:۲۶)

دغسـې یـو شـمیر نـور ایتونـه سـوه نسـاء ایـت ۸۸، ۱۴۳، رعـد، ۳۳، زمـر ۲۳، ۳۶، عـافر، ۳۳، شـوري، ۴۴، ۴۶، اعـراف، ۱۸۶، دي چـې هغـې کښـې حـق تعـالي وائـي چـې زۀ څـوک ګمـراه کړمـه هغـه نـه پـه لار کېـږي، خـو لـه بـده مرغـه اشـاعره منطقیـاتو د دې ایتونـو سـیاق و سـباق غـور فکـر نـۀ ؤ کـړې چـې هلتـه وړومبـی د دغـه ګمـراه خلقـو د نفـاق او فسـق، تکبـر، ظلـم، خبـرې شـوي او هـم د دغـه لـه کبلـه بیـا خـدای ګمـراه کـړي لکـه هـم د دغـه بـره ورکړي آیت دویمه برخه ده چې:

وَ مَا يضِلُّ بِهٖ اِلَّا الْفٰسِقِينَ. ژباړه: خدای تعالي نۀ ګمراه کوي مګر فاسقین.

او بل ځای هم اَللہ تعالٰي وائي:

وَ يضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِينَ. [الابراهیم: ۲۷]ژباړه: خدای ظالمان ګمراه کوي.

او هم دغه شان بل ځای وائي:

وَ مَا يضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَ مَا يشْعُرُوْنَ. [آل عمران:۶۹] ژباړه: [خدای]دوي نۀ ګمراه کوي، دوي د خپلې ناپوهی/ بې شعورې په وجه ځانونه بې لارې کړي.

خو دا اشاعره مسلک دغه د جبر مفکوه د اهلسنت والجماعت یوه بنیادي عقیده تر اوسه راروانه ده او کلاسیکي شاعران چې کله د ازل د برخو خبره کوي نو هم دغه تناظر کښې ئي کوي.

3. **د ناممکنیت احساس** (Uncontegencial feeling):

د نامـمکنیـت مطلـب دا دی چـې څـۀ دې بـس پـه خپـل ځـای ټیـک دي، دې کښـې د بـدلون امکـان نـۀ شـي کېـدی، ځکـه د بـدلون د پـاره هڅـه نـۀ ده پکـار. امکـان هغـه صـورتحال دی چې د کېدۀ او نۀ کېدۀ، شتون او نیشت دواړه په کښې ممکنه وي. امکان دوه معنې لري.

الف: منطقي امکان. ب: طبعي امکان

د منطقي امکان تړاو منطقي او عقلي توجیهې سره دی او طبعي امکان تړاو د فطرت قانون سره دی. تصوف کښې هېڅهیلتیا طبعي امکان د منطقي امکان په تصور رد کوي او دا نهٔ مني چې ازاد فعلیت په فطرت کښې هم بدلون راوستی شي.

هېڅهیلتیا کښې د ناممکن احساس ډېر عام لیدی شي کوم چې د پښتو شاعرانو ځای په ځای خپله شاعرۍ کښې په ګوته کړی دی. عبدالرحمان مومند شعرونه دي.

د هر چا حرمت په خپله اندازه دی
نهٔ چې مومي نفر ځای د امراء(۲۱)

او دغسې قنبرعلي خان اورکزی هم وائي:

تفاوت د خوي لري کس و ناکس
څهٔ نسبت لري همای سره مګس
په خلقت او بال و پر که مساوي دي
د شاهین د باز خوي نهٔ وي د ګرګس(۲۲)

4. **یاسیت** (Despondencism):

اګر که د یاسیت او هېڅهیلتیا یوه معنٰی په لغات کښې بېدلي شي خو د معنویت لهٔ رویه داسې نهٔ ده. یاسیت د ارمان په اساس ولاړ وي. یاسیت اصل کښې د هېڅهیلتیا ابتدائي احساس دی نو دا د هېڅهیلتیا غوندې ژور او د خود اذیتۍ ترحده پورې نهٔ وي. یاسیت کښې د هیلې طمعې بنیادونه ولړزېږي خو دغه لړزان زیات ژور نهٔ وي. یاسیت یو قسم له بې نومه خفګان دی لکه د الفت بېګم درد دې شعرونو ته ځیر شئ:

خفه ناسته یم سحر نه تر ماښامه
هېڅوک نهٔ شته چې پوښتنې له مې راشي

بلبلان به د غرهٔ ګټو کښې دېره شي
باغ دې ستا شي جالې مهٔ سېزه باغوانه

ستا سیلۍ دې سلامته وي دلبره!
تهٔ زما د کشتۍ څهٔ پوښتې حالت؟

او د شمس الدین کاکړ شعر دی

هر طرف وینم زوېرګي دي په هر کور کښې
داسې نهٔ چې زهٔ تنها یم ستا لهٔ درده(۲۳)

جدید توخي وائي:

طالع منده په دنیا کښې هغه کس دی
چې مدام وي د خپل یار په غم غمګینه
غمګیني د عاشقانو خوشحالي ده
زۀ پوهېږم یا هغه چې عاشق وینه(۲۴)

5. **د تهذیب او تمدن رد** (DE civilization):

جاګیردارانه دور په بنیادي توګه دوه ډوله نفسیاتي رجحانات پېدا کړي وو.

یو رجحان د لذتیاتي جمالیات (Hedonistic Aesthetic)،

او بل د ټولنې نه د تېښتې (Escapism).

لذتیاتي جمالیات کښې دا تصور دی چې ښائست د حسونو په تشفیه کېږي او تر اورېدنې کتنې لمسنې ځکښنې او خوړنې پورې محدود دی. د تېروتنې ځخه لذتیت او اپیکوریت یو ګڼلی کېږي. البته اپیکوریت د لذتیت غوره فلسفیانه تصور دی چې د دې تر مخه زبرګ خېر، د رنځ نول او سترېا نیشت او بیا د داسې خوشحالۍ نه تېښته ده چې پایله ئې بده راوځي. که مونږ وګورو نو لذتیاتي جمالیات یواځې ښکل خوړل، لیدل کتل، لمسل نه خوند رنګ اخستل دي. د لذتیاتي جمالیاتو تصور جاګیردارانه اشرافیه او سرمایه دارانه اشرافیه کښې عام دی. هم دغه ته لائف ستائل او ستېټس کو وئیلی کېږي. د عمر خیام رباعیانې او د خوشحال خان خټک د شاعرۍ یوه لویه برخه په لذتیاتي جمالیاتو مشتمله ده.

جاګیردارنه ټولنه کښې د ژوند نه تېښته هم د ژوند مقابله کښې د ناکامۍ د احساس نه پېدا شوی. د دې تېښتې په شا د ژوند د ترخو حقیقتونو نه د ځان شوکولو او د ناکامۍ د وېرې نه په یو ډول د "خود ساخته قناعت" سیوري ته فرار دی. جاګیردارانه دور کښې پخوا خانقاهي تصوف نوي سرمایه دارانه دور کښې بیټلز او هپي ازم او تبلیغي ډله هم تر خپلې شا دغه نفسیات لري. هم دغه حواله باندې که مونږ ګورو نو جاګیردارنه ټولنه کښې د دې متل "چې د چا واک وي، هغه اساک وي" لۀ رویه هر وخت جنګ و جدل، شویه او هپه، لښکرونه چپاوونه، یرغلې ناتارونه د ژوند معمولۀ او د اوچو سره به لواندۀ هم سوځېدل. پوره پوره ښارونه به ړنګ شول، ودانۍ به کنډوالۍ شوې، بیا به پرې غوایان وګرځولی شول. لۀ دې کبله هم د ردِ تهذیب او تمدن یوه رویه پېدا شوه چې وروسته کښې د علي حېدر جوشي دا مشهور شعر د دې روئې ناویاته بېلګه ده:

مانۍ څهٔ له جوړوې سبا له کوچ دی
دومره بس ده چې په تا څخېږي نهٔ

د ردِ تهذیب و تمدن دغه تصور کلاسیک غزل نه راروان دی.

د دنیا د محلونو خښتې واړه
و رحمان ته د سرونو منارې شوې(۲۵)

د مرګ د دغه ژور احساس له کبله دنیاوي مال و اسباب ته هم په بد نظر کتلی کیږي لکه مرزاخنان بارکزئي وائي!

ولې زړهٔ په مال اسباب تړې بدبخته
بې له خدایه دې بل ځای نهٔ شته آسره(۲۶)

تکیه مه کوه په مال فرزند بې بخته
که دې مال که فرزندان دي نابکاره(۲۷)

مشغول مهٔ اوسه په غم د سیمو وزرو
د دنیا له ډېره فکره سودا پائي(۲۸)

دا ؤ پښتو کلاسیکي غزل کښې د هېڅهیلتیا یو څو اړخونه، لویدیځ کښې هم هېڅهیلتیا د یوې باضابطه فلسفي حېثیت لري. ارتهر شوپنیار او فریډرک نطشې د دې لوئ نومونه دي. شوپنهار بنیادم یو فوق العاده ځناور او د خواهشاتو مکمل غلام ګڼي او عقل د دغه خواهشونو یو لاربښود خواهشونو نه راوتل ناممکنه ځکه دي چې خواهش ته علم او عقل لاره نهٔ شي نیولی ځکه دنیا د شر ښکار ده او هرڅهٔ د یو پرل پسې جبر نه تیریږي.

د ارتهر شوپنهار غوندې فریډرک نطشې د هېڅهیلتیا بېرغ اوړونکی دی. هغه د بنیادم خاصه د ځواک مونده خواهش راښائي او کائنات هم د دغې خواهش لاندې ګڼي. دغه د ځواک خواهش د هېڅ شي پرواه نهٔ لري، او څهٔ څهٔ چې ئې وراندې راشي له مخه ئې اوړي، دل دول کوئي ئې، ځکه ژوند مستقل مصیبت او بنیادم لکه یو خونړی ځناور دی چې د ځواک موندنه کښې د عقل، اقدارو او علم هېڅ شي پرواه نهٔ لري. عقل او نیکي هم خپل حقیقت کښې د ځواک موندنې جذبات نهٔ دي.

ارتهرشوپنهار د هېګل د عقلیت مخامخ غیر عقلي اراده د خپلې فلسفې بنیاد وګرځوله او هېڅهیلتیا ته ئې فکري بڼه ورکړه، نو ورپسې نطشې، فریوډ او وجودي مفکران کرکیګارډ، کامیو، هائیډګر، سارتر او جسپرز هم د وجودیت لهٔ رویه

هېڅهيلتيا يوه بشپړه فلسفه جوړه کړه. شوپنهار لۀ مخه بنيادم غمژنه پېداوښت دی چې ټول عمر ئې اراده يو خوا او خواهش بل خوا راکاږي. او کله چې پرې خواهش بری ترلاسه کړي او ځان پرې باندې پوره کړي نو بيا هم پايله د يو وېزاره صورتحال په ډول راوځي چې د بنيادم احساس کښې ستړيا ډکه کړي. دغه ستړيا تر هاغه وخته پوره وي چې تر څو پورې بل خواهش نۀ وي راپورته شوی. ځکه د يو خواهش نه د خلاصون مطلب بل خواهش ته ځان جوړول دي چې د دواړو تر منځه په کړاک او بې زارۍ بنيادم لکه د پيانګې (Pendulum) خوځي راخوځي نو ځکه بريالی هغه نۀ دی چې هېوادونه د پښو د لاندې کړي. بلکې بريالی هغه دی چې د ژوند د ولولې نه ځان وژغوري.

مونږ ګورو چې دغسې فکر د بدهـ مت هم دی. د بدهـ مت لۀ رويه ژوند غم او تکليف دی او د غم او تکليف بنياد په خواهش ولاړ دی. د خواهش نروان مطلب د هر خواهش نه داسې ځان خلاصون دی چې وروسته کښې بس د خيال يوه خلاء پاتې شي. لکه تيارۀ چې هېڅ په کښې نۀ شي ليدلی کېدی، دغسې ذهن هم د هر تصور نه دې خلاص کړی شي چې يواځې تشيال پاتې شي، هم دغه نروان دی او د دې توري نروان مطلب هډو "مړه شوې ډيوه" ده. بدهـ مت د خواهش د ډيوې وژلو د پاره اتۀ پړاوونه ښائي:

1. رښتونې ګروه .2 رښتونی هوډ 3. رښتونې وېناوې
4. رښتونې کړنه .5 رښتونی شوق 6. رښتونې هڅه
7. رښتونې پوهه/علم .8 رښتونې مراقبه

شوپنهار بدهـ مت او هندومت کښې زښته مطالعه لرله، دغه ځای نه د هغۀ فلاسفي کښې د ژوند رنج، تکليف، کړاو، زړۀ چاودون د بنيادي حقيقت ځای ترلاسه کړو.

دغسې فکر د وړومبۍ عيسوي صدۍ د فلسفي ايکريتس هم ؤ. هغه هم وائي چې د بنيادم زېږنې سره د خدای هېڅ تړون نۀ شته. خدای د بنيادم د زېږېدنې نه بيخي بې غرضه دی، ځکه ژوند د چا لېوني لوبه ده، نۀ چې د کوم ډرامه ليکونکي د دماغو نتيجه ده. خدای نه دا هيله نۀ شي کېدې چې وړومبی دې د خپل عبادت د پاره د معبد جوړولو حکم ورکړي او بيا په دې معبد باندې شړق راغوزار کړي. لکه هغه د اشرف مفتون خبره:

ښکاري ډېر کارونه د خدای په واک کښې نۀ دي
ګنې نو څۀ خوشحالي خدای ته په سېلاب کښې وه؟

د تهذيب او تمدن رد کښې الف) د دنيا غندنه ب) د ښکلا غندنه هم ضمني توکي دي.

الف) د دنيا غندنه (Condemning the material World):

د دنیا غندنه په شد مد کول د هېڅهیلتیا یوه بنیادي رویه ده. دنیا ته سپی، رزیله او پلیته وئیل په تصوف کښې عام لیدهٔ شي او د دې وجه دا هم کېدې شي چې تصوف بنیادم د خپل اصل روح الارواح نه رابېل شوی او مادي دنیا په چقړو کښې نښتی ګڼي او وائي چې د مادي خصائصو بنیادم د ګناهونو بوختې کښې نښلولی دی او ځکه په اوچت اواز د دنیا غندنه کوي.

دا دنیا ده بې وفا :: بې وفا ده بې بقا
نهٔ ئې مخ شته نهٔ ئې څټ :: لکه لوټه په صحرا"(۲۹)

علي خان هم د دنیا په حقله دغه نظر لري.

لکه سپی دا دنیا هسې ئې اهل
د نا مړدو زویو خوي وي تل وه مور ته(۳۰)

مصري خان ګګیانړی هم وائي:

د دنیا طالب په ښځه حسابېږي
او طالب د مولا هر یو مردانه(۳۱)

نجیب سربند هم د دنیا غندنه دا رنګ کوي.

د زړهٔ عقد ورسره مه کړه هوښیاره
دا دنیا ده په معني ښځه رذاله(۳۲)

ب) د ښائست غندنه (Condemning Beauty):

د دنیا د غندنې غونډې د دنیاوي دلربانو غندنه هم کلاسیک کښې په عامه توګه شاعران کوي.

میا نعیم متیزی هم غزل سرا دی:

په وفا د ترکو نهٔ شته اعتبار هېڅ
ښهٔ او بد د فلک نهٔ لري مدار هېڅ
ټګل کاندي د دې دهر یاران واړه
بې دروغو په کښې نهٔ شته بل دیار هېڅ
که هر څو مئین اشنا درته ښکارېږي
په باطن ئې درته وي د زړهٔ کار هېڅ
په لباس او غولول به دې زړهٔ یوسي

په اخلاص به درته نۀ کاندي مدار هېڅ
که د درست جهان کارونه ورته پرېږدې
د دې دهر یار به ستا نۀ شي په کار هېڅ
که سوګند درسره وکړه بیا ئې مات کړه
باور نۀ شته د یارانو په ګفتار هېڅ(۳۳)

دې غـزل تـه کـه ځیر شـو نـو ښکلي یـاران ځکـه غنـدلی شـوي چـې تعلـق ئـې د دنیـا سـره دی او دنیـا لـۀ مـادي جـوړه پلیتـه، نجسـه ده چـې انسـاني اروا ئـې پـه مـادي علائقـو کښـې بوختـه د خپـل اصـل نـه جـدا ده. ځکـه پـه دې غـزل کښـې دوه پېـرې د دهـر یـاران پـه تخصـیص سـره یـاد شـوي او دوي ټګـان او دروغـژن او بـل ځـای ښـۀ نـۀ منـونکي ښـودلی شـوي. دې نظـم نمـا غـزل کښـې نـور خويونـه بـې اعتبـاري، منافقـت، غولـول، لباسـيان او بـې ژبې کېدۀ یاد شوي دي. هم دغه لړ کښې د بېدل اشنغري شعر هم دی چې:

ننګیالي په جهان نۀ شته دی بېدله
د بې ننګه معشوقو لۀ ملکه ووځه(۳۴)

5. **ګوشه نشیني** (Monkshood):

د ټـول جبریـت او بنـد پزونو عـلاج بـې د دې نـه بـل څـۀ نـۀ شـي کېـدی چـې د هېڅهیلتیـا ځپلی بنیـادم دې د ژونـد نـه تېښـته وکـړي او ګـوټ دې ونیسـي. ځکـه دنیـا نـه د ځـان راغونـډولو مضـمون پـه غـزل کښـې بیخـي عـام لیـدلی کېـږي چـې ورسـره عمومـاً د تصوف خانقاهي تصور هم تړلی وي. لکه د عبدالرحمان مومند دې شعرونو ته پام شئ:

لکه مړی د ژوندو تر میانه پروت وي
هسې بیل یم لۀ عالمه په عالم کښې(۳۵)

په دنیا کښې لۀ دنیا ګوښه کنار شه
سمندر غوندې په اور کښې ګلعذار شه(۳۶)

چې دنیا ئې کړه د خدای د پاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار د دروېشانو"(۳۷)

6. **ګداز او ګریان**

ګـداز او ګریـان د یـو احسـاس دوه تـوکي دي، کـوم چـې د بـې وسـۍ او بـې کسـۍ نـه پېدا کېږي. مونږ پرې دلته ځان ځان له خبره کوو:

الف) ګداز (Pathos):

د ګداز مطلب شعر کښې داسې کېفيت رانغښتل دي چې د اورېدونکي زړۀ په سوز نرم کړي. د ګداز صفت اکسفورډ لغت داسې کوي:

An element in experience or in artistic representation
evoking pity or compassion; an emotion of sympathetic pity(۳۸)

**ژباړه:** په تخليقي تجربه کښې د درد او همدردۍ د کېفيت څرک.

په دې حقله د رحمان بابا شاعري د ګدازيت لوی مثال دی.

ستا لۀ غمه په ځان زړۀ د رحمان سوزي
لکه شمع په زيارت د شهيدانو(۳۹)

دا دستور دی چې لۀ درده زوبرګی خېژي
ګڼه څۀ وو د رحمان د شاعرۍ؟(۴۰)

ب) ګريان (Whelming):

الفرډ ايډلر وائي چې مساکيت د غالب راتلو خواهش دی او د دې بريالتوب مطلب غمژنتيا (Melancholy) ده. وګړی چې د ځېلې غوندې اوښکې بهيوي نو د درد اظهار کښې لکه د زړۀ سود مومي او مونږه ګورو چې متصوف شاعرانو کښې د ګريان دا عمل زيات ليدلی کېږي. لکه د عبدالرحمان مومند د شاعرۍ زياته برخه د ګريان نمونه وړاندې کوي. زۀ ترې دلته په يوه بېلګه اکتفاء کوم:

زۀ دا ستا لۀ غمه ژاړم واړه وينې
واړه وينې، واړه وينې، واړه وينې
چې د زلفې د رحمان په زړۀ وريځ کړې
تر بڼو ئې ځکه څاڅي اوښکې وينې(۴۱)

دلته به د کامګار خټک څو شعرونه د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

د ښادمنو تر سندرو چې ئې وائي
د غمژنو په فغان باندې مئين يم(۴۲)

7. **مساکيت** (Masochism):

د درد او رنځ لذت چې خيالي وهمي توګه باندې محسوسېږي، د دې انتها ته مازوکيزم وئيلی شي. خو دې صفت کښې د جنسيت بيان هم منلی شوی لکه:

The practice of getting pleasure from being physically hurt.(43)

لکه عبدالرحمان مومند وائي!

زۀ د یار په درد و غم کښې غرقاب خوښ یم
په دا اور کښې بې طاقت و بې تاب خوښ یم
که ډوبېږم په اوبو که په اور سوزم
د سرو شونډو په اٰتش و په اٰب خوښ یم
د طوبٰي د اونې سېورى مې خوښ نۀ دى
ستا د مخ په لمبو سوی کباب خوښ یم(۴۴)

حسېن د پکھلۍ وائي!

هر هر غم ئې په څو چنده ښادۍ ووځي
خدای دی ما د یاره غمه بې غم نه کا
ستا غمزو تراشلی زړۀ په زخم خوښ دی
اندیښنه ئې د طبیب د مر هم نه کا(۴۵)

علي خان د هشنغر داسې وائي!

ستا د تیغ په اوبۀ حلق د چا لوند نۀ شۀ
بې نصیبه تل ځي تږی لۀ دریابه(۴۶)

کامګار خټک وائي:

د ښو غشی دې لک زما په زړۀ دی
د مجنون تر پېښو که نل ؤ راختلی(۴۷)

په سینه مې لک د تا د ښو غشی
د زړۀ سر مې داغدار د تا لۀ خیاله(۴۸)

8. **د مرګ جبلت** (Eros instinct):

جبلتِ مرګ پښتو شاعرانو کښې کلاسیک کښې عبدالرحمان مومند او نوې شاعرۍ کښې بیا د عالمګیر یوسفزي د شاعرۍ ملحض (Epitome) دی. کوم څۀ نه چې وېره کېږي یا ورسره زړۀ زړۀ راکښون بې کچه وي، هغه د لاشعور داسې برخه وګرځي چې ځای په ځای د بنیادم کړنو کښې نخښې نخښانې لیدلې کېږي. د ژوند خواهش باندې چې د مرګ جبلت برې ومومي نو مرګ انټروجیکشن باطن کښې ستون شي او د هېڅهیلتیا په صورت ښکاره شي. نومورې شاعر لاړۀ بائرن هم په دې حوالې سره

مشهور دی چې په شاعرۍ کښې ئې د مرګ احساس د جنګ په تخریبي صورت راڅرګندېږي، تخلیقي عمل کښې هغه دې تخریب ته لویه برخه ورکوي. لارډ بائرن د خپل وخت لوی کاسانووا ؤ، ښځو به ورته د ډېرې مینې نه سپینه فرښته وې، خو په یوه پښه ګوډ ؤ او لۀ دې کبله د کمترۍ د احساس ښکار هم ؤ، دې احساس په کښې د هېڅهیلتیا او جنګرېزۍ رجحانات وزېږول. مرګ سره د مینې تصور هغه د ترک خلافت خلاف یوناني جنګ کښې شرکت ته هم بوتلو. د هغۀ د شاعرۍ مخصوص لفظیات هم داسې توري لري چې د هېڅهیلتیا او جنګرېزۍ رجحاناتو ته اشاره کوي. لکه

لفظیات: مرګ، شپه، ځنګل، چاودنه، مدفن، ډرم، رېنک، الارم، اوښکه، کانړی، واښۀ، اسپه، سپاهي، ماښام، ماتې، فوج، پنجره، خاوره، تندر او دغسې نور.

نفسیات د مرګ جبلت او د ژوند جبلت دواړه د یو بل متضاد ګڼي. هر کله چې یو ژونده سړي کښې د ژوند خواهش په مرګ برې ترلاسه کړي نو مرګ د ژونده سړي دننه د رنځ، ځان وژنې خواهش او هېڅهیلتیا په صورت د خپل ځواک ښودنه شروع کړي. ژوند اصل کښې د مرګ او د ژوند د جبلتونو د توازن نامه ده، ځکه قراني روایت کښې د ژوند او مرګ دواړو خوش کن تصورات ښودلی شوي دي. د دې روایت لۀ رویه د مرګ دوه قسمه د عقوبت مرګ او د اجل مرګ ښودلی کېږي. د عقوبت مرګ کښې دوېم ژوند وي لکه د بنیادم مرګ او د اجل مرګ کښې دوېم ژوند نۀ وي، لکه د ځناورو او مواسو مرګ. بدهـمت هم مرګ ته ارزښت ورکوي او وائي چې هاغه څوک چې د نیروان خواهش ورکښې وتوکېږي او نفس ئې د ګډوډې ښکار نۀ شي او خیالونه ئې په مینه الول نۀ شي، هغه کس وي چې هغۀ ته مرګ نه راپورته شوی (اردهدم سروت) وئیلی شي.

هېڅهیلتیا کښې د مرګ سره مینه نفسیاتي بنیاد کښې تولنیزه ژوند کښې د پرله پسې د ناکامۍ وجه هم کېدې شي. د ژوند مادي ارتقاء کښې جبلت د جماداتي دور یادګار دی. مرګ سره مینه په رجعت کښې د جمادات دور ته د واپس ستنېدو لاشعوري عمل دی. تصوف کښې هم د ځان خاورې کولو تصور د خاکسارۍ لۀ رویه او لویۍ حاصلولو تصور کښې نفسیاتي شالید هم دغه جماداتي دور ته د بېرته ستنېدو خواهش دی.

ژوندی ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لوئي غواړې د خاورې په مقام شه(۴۹)

د مرګ ژور احساس کښې هم یو قسم لـه خوند رنګ محسوسېږي او څۀ عقلي توجیه اخلاقي جواز ورته هم اکثر پېدا کولی شي، لکه ځنې یاسیت ځپلې متشرع شاعران چې د مرګ یادونه کوي نو دغه اخلاقي جواز ورته هم پېدا کوي. لکه د امام

مسلم دې شعرونو ته ځیر شئ چې "طبقات کبریة" کښې تاج الدین سبکي نقل کړي وو:

مثل الهائم لا تريٰ اجالها
حتٰي تساق الي المجاز تنحر
خالق الناس نعلق واسع
لا تکن کلباً علي الناس تهر

ژباړه: غفلت کوونکي د ځناورو په مثال د خپل عاقبت نه نۀ دي خبر چې اخر به زبح شي. خلقو سره په ښۀ اخلاق وړاندې کېږئ، د هغه سپي په مثال نۀ چې غاپي.

او دغسې ابو عبدالله حاکم هم خپل تاریخ کښې دغه شعر راوړی:

ان عشت تفجع بالاحبة کلهم
و بقاء نفسک لابالک افجع

ژباړه: که ژوند پاتې وي نو د ټولو ملګرو د مرګ غم پورته کول به لازمي وي، ځکه چې ستا ژوند یو درد ورکوونکی شی دی.

د خود اذیتۍ پائیله مرګ دی. ځکه مونږ ګورو چې کلاسیکي غزل کښې د مرګ د یو ژور احساس په توګه راڅرګندیږي.

د کلاسیکي شاعرۍ عموي رجحان د مرګ یادونه ده. لکه نجیب د سربند وائي!

زمانه به دې زر لاندې کړه تر خاورو
لوئي مه کړه دستارمه ږده په سر هوک(۵۰)

مرزاحنان بارکزی وائي!

د صورت نهال ریبي د مرګ اره
لا تر څو ئي د دنیا په مال غره(۵۱)
د اجل جید طلب د ستا د روح که
ته طلب د مال اسباب کوي نادانه(۵۲)

9. **ړنګېږنه** (Feeling of Decline):

رحمان بابا د غندنې سره هغه د دې غندنې جواز یعني ړنګېږه (بې ثباتي) هم په ګوته کول نۀ هیروي.

خود به وران شي د دنیا بازاره تاړه
هر ساعت د بیلتانه په تاخت لتاړه
لا غنچې په باغ کښې سترګې سپړدې نۀ وې

باد خزان ئې د زړۀ مینه کړه ویجاړه
هسې باد پرې د فنا له لوري والوت
د لاله قوله ئې پرې ایسته له ناړه(۵۳)

او عبدالله مخزون پوپلزی هم وائي:

خوشې پسې په دنیا پسې ایږدې اوږدۀ ګامونه
لاندې به تر مځکه بیا ډېر وکړې ارمانونه
وګوره د زړۀ په سترګو چا ورسره یوړۀ
سپور په اوچ لرګي ځي که لري ګلې اسونه(۵۴)

د دې شعرونو نه دا اندازه کېدی شي چې د باغ او سپرلي غوندې زړۀ راښکونکي ماحول کښې هم هېڅهیلتیا نکته نظر لرونکي شاعران د رجائیت (هیله پالتیا) توکي نۀ ویني لکه عبدالرحمان مومند دغه بې ثباتي په ګوته کوي.

چې صباح شګفته کېږي ماښام ژاړي
څۀ امید دی په ګلونو د ګلزار(۵۵)

دا ګلونه چې ئې ځای دی په دستار کښې
همه واړه به د پښو د لاندې دل شي
دا چې اوس په یۀ کور کښې سره ناست دي
عاقبت به ئي جدا جدا منزل شي(۵۶)

او یونس خېبري هم وائي:

دا د دنیا لکه دریاب اجل نهنګ دی
څو به جوړ ځنې ساتې د تن جهاز
یوه ورځ به دا جهاز کا دړې وړې
بیا به نۀ شي تر قیامته پورې ساز
د دنیا په مخ هېڅوک نۀ پاتې کېږي
پاتې کېږي ترې د نېک و بد اواز(۵۷)

د لویدیځ په پرتله ختیځ کښې د هېڅهیلتیا نکته نظر دراصل د اشاعره مسلک او د جاګیردارانه سماج د لاندې روزلې شوې ده. اګر که باقاعده فلسفه نه ده خو د عقیدې په صورت ئې جرړې د ختیځ د ټولو مذاهبو د منونکیو نفسیاتو کښې دي.

زمونږ د دې مطالعې نه دا څرګنده شوه چې هېڅهيلتيا کښې دغه توکي چې مونږ بره په دې حوالې سره د بېلابېلې بېلبرې په توګه رامنځ ته کړل، خو دا ضروري نۀ ده چې دې سره اتفاق وکړی شي خو د هېڅهيلتيا په حواله د مختلفو توکو د رامنځ ته کولو په حواله دا وړومبۍ څېړنه ده.

❀❀❀

# حوالې


(۱) لوېس معلوف، المنجد ، (لغت)، دارالاشاعت کراچۍ، ۱۹۹۸، ص ۸۴۲
(۲) مشوانی، عبدالقيوم، زاهد ، پښتو پښتو سيند ، پېښور ، دانش خپرندويه ټولنه، مخ ۱۰۷۶
(۳) هم دغه اثر، مخ ۱۰۷۷
(۴) رښتين، صديق الله، پښتو ګرامر، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۲۰۰۳ز، مخ ۲۱۱
(5) Bennett, Oliver. Cultural pessimism. Edinburgh university press. 2001
(6) The Encyclopedia Americana by American corporation, Vol XXI, 1958, Edition, page, 654
(7) Webster's International Dictionary, 1961, Page# 1689
(۸) سيماب، نصيب الله، ډاکټر، د کره کتنې اصطلاحات، پښتو اکېډيمي کوټه، ۲۰۱۳ز، مخ ۱۵۶
(۹) د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۸۶
(۱۰) قاضي، عبدالقادر، ډاکټر، کشاف اصطلاحات فلسفه، مخ ۲۴۱
(۱۱) فېصل فاران، اساطيري تلميحات په پښتو شاعرۍ کښې، پښتو اکېډيمي، کوټه ۲۰۱۵ز، مخ ۱۶۶
(۱۲) ذوقي، سيد محمد ، سرِ دلبران، کراچۍ، محفلِ ذوقيه، ۱۴۲۲هـ، شپږم چاپ، مخ ۳۶۲
(۱۳) د يونس ديوان، خدمتګار، عبدالله، بختاني، خپرندوی، کابل، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵۶ل، مخ ۱۴۸
(۱۴) ديوان د عبدالرحمان بابا ، ترتيب او تدوين: دوست محمد خان کامل، قلندر مومند ، کابل، افغان پرنټرز، س ن، مخ ۱۹۳
(۱۵) سيماب، نصيب الله، ډاکټر، د کره کتنې اصطلاحات، مخ ۸۴
(۱۶) رحمان بابا ديوان، مخ ۹۴
(۱۷) د شمس الدين کاکړ ديوان، ترتيب و تدوين: محمد معصوم هوتک، کوټه، صحاف نشرياتي مؤسسه، ۲۰۰۹ز، مخ ۳۱
(۱۸) د بېدل ديوان، مخ ۱۹۳

(۱۹) د علي خان ديوان، مخ ۴۶
(۲۰) د نجيب ديوان، ۱۶۶
(۲۱) د رحمان بابا ديوان، مخ ۲۱
(۲۲) ديوان قنبرعلي خان، ترتيب: همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، ۱۹۶۰ز، مخ ۴۹
(۲۳) کاکړ شمس الدين ديوان، ترتيب وتدوين: معصوم ختک،
صحاف نشرياتي موسسه کوټه، ۲۰۰۹، ص ۱۴۵
(۲۴) د جديد توخي ديوان، سمون: مطيع الله روهيال، کوټه، پښتو اکېډيمي، ۲۰۱۵ز، مخ ۱۶۰
(۲۵) ديوان د عبدالرحمان بابا ، مخ ۳۷۶
(۲۶) د مرزا حنان بارکزئ ديوان، مخ ۱۲۱
(۲۷) هم دغه اثر، مخ ۱۲۰
(۲۸) هم دغه اثر، مخ ۱۴۵
(۲۹) رحمان بابا ديوان، زېب ارټ پبلشرز، پېښور، ۱۹۹۸ز، مخ ۹۴
(۳۰) علي خان ديوان، ترتيب وتدوين، تقويم الحق کاکا خيل، پېښور،
پښتو اکېډيمي، ۱۹۸۷ز، مخ ۴۲
(۳۱) ختک، محمد عرفان، د مصري خان ګګياڼي ژوند او فن، مشموله "قند"، مخ ۷۳
(۳۲) نجيب ديوان، ترتيب وتدوين: خيال بخاري، پېښور، پښتو اکېډيمي، ۱۹۷۳ز، مخ ۱۴۴
(۳۳) ميا نعيم ديوان، ترتيب وتدوين، خيال بخاري،
پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۶۴ز، مخ ۵۷
(۳۴) د بېدل ديوان، ترتيب: همېش خليل، پېښور، شاهين برقي پرېس، ۱۹۵۷ز، مخ ۱۹۳
(۳۵) د رحمان بابا ديوان، مخ ۹۹
(۳۶) ديوان د د عبدالرحمان بابا ، مخ ۲۲۳
(۳۷) هم دغه اثر، مخ ۱۷۲
(38) https://www.merriam-webster.com/dictionary/pathos
(۳۹) د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۲۵
(۴۰) هم دغه اثر، مخ ۱۵۳
(۴۱) هم دغه اثر، مخ ۱۵۳

(۴۲) د کامګار خان خټک ديوان، مخ ۱۷۶

(43) A.S Hornby, Oxford Advance Learners Dictionary, England, Oxford Press, 2001, Pg. 820

(۴۴) د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۱۲

(۴۵) د حسېن ديوان، تدوين: همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، ۱۹۵۸ز، مخ ۲۷۹

(۴۶) علي خان ديوان، مخ ۴۶

(۴۷) ديوان کامګار خان خټک، ترتيب تدوين، سيد تقويم الحق کاکاخېل، پېښور، پښتو اکېډيمي، ۱۹۹۵ز، مخ ۲۱۲

(۴۸) هم دغه اثر، مخ ۱۶۰

(۴۹) د رحمان بابا ديوان، مخ ۹۷

(۵۰) د نجيب ديوان، مخ ۱۴۱

(۵۱) ديوان مرزا حنان بارکزئ، ترتيب تدوين: محمد معصوم هوتک، کوټه، صحاف نشرياتي مؤسسه، ۲۰۰۹ز، مخ ۱۲۱

(۵۲) هم دغه اثر، مخ ۱۲۰

(۵۳) خټک، محمد عرفان، د مصري خان ګګياڼي ژوند او فن، مشموله "قند"، اکوړې، مرکزِ اشاعت ادبيات، ۱۹۹۶ز، مخ ۷۳

(۵۴) د عبدالله مخزون پوپلزئ ديوان، سريزه: محمد معصوم هوتک، د قندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست، ۲۰۱۳ز، مخ ۸۶

(۵۵) د رحمان بابا ديوان، مخ ۲۴

(۵۶) هم دغه اثر، مخ ۱۴۲

(۵۷) د يونس ديوان، مخ ۱۰۳